نړيوال بانك
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسيدلو لپاره هلې ځلې

# خبري خپرونه

شمېره:DEC/58/2007

اړيکي:
نړيوال بانک په واشنګتن کی: اريك نور
ا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)
برېښنا ليک: enora@worldbank.org

---

## نړيوال بانك په سهيلی آسيا کی د HIV ويروس او ايډز ناروغی درلودونكو كسانو په وړاندې د حساسيتونو او توپير سره د مبارزې لپاره د نويو نظريو د موندنې هڅې کوي

**واشنګټن، ډي سي، د ۲۰۰۷م كال د نومبر د مياشتې ۲۶مه**– نړيوال بانك د ملګرو ملتونو د سازمان او د خصوصي سکتيور په همکارۍ سره نن د آزادو سياليو له لارې د مرستو د موندې پروګرام پيل کړ چې موخه يې په سهيلي آسيا کې د نوښتونو د كارولو له لارې د اچ آی وي او ايډز په ناروغۍ د اخته كسانو په وړاندې د حساسيت او تبعيض كمښت ده. د افغانستان، بنګله دېش، بوتان، نيپال، هندوستان، سريلانكا ، او پاكستان هېوادونه پكښې ګډون لري.

نوموړی رقابتی پروګرام چې نوم يې « د اچ آی وي او ايډز د ناروغانو په وړاندې د حساسيت او تبعيض د كمښت لپاره له نظريو څخه تر عمله پورې» دی، په سهيلي آسيا كې د خلكلو د پوښښ لپاره پلي كېږي او د هغې پر بنسټ د كوچنيو او سيمه ايزو پروژو داسې وړانديزونه چې د پراختيا او بيا كارونې وړتيا ولري، غوښتل كيږي. بريالي غوښتنليكونه به د نوموړي پروګرام د موسسو د غونډې پر مهال د نړيوال بانك د بين المللی منصفه هيأت او د اچ آی وي او ايډز د خپلواکو كارپوهانو له خوا د ۲۰۰۸ كال د مې د مياشتې په ۱۵ مه نېټه د هندوستان په ممبيي ښار كې اعلان شي.

*«حساسيت او تبعيض د اچ آی وي او ايډز ناروغۍ د مبارزې په وړاندې لويه ستونزه را منځ ته کوي.» د امطلب* **پرافول پاتل چې د سهيلي آسيا لپاره د نړيوال بانك مرستيال** دی، څرګند كړ او زياته يې كړه چې *«همدارنګه د ګوانښونو سره مخ كسان او ناروغان نور هم ځنډې ته اړباسي چې ددوی د لازيات تولنيز بېلتون او بېوالي ته لامل ګرځي. دا د سياليو پروګرام به يوه خاصه موقع منځ ته راوړي چې سيمه ايزو سازمانونو او غير حکومتي موسسو ته به كوچنی مرستې په مستقيمه توګه وركړل شي ترڅو داسې نوښتونه وهڅوي چې د اغېزمنو پروګرامونو پر وړاندې د خنډمنو فكرونو او رويو د بدلېدلو لامل شي.»*

په سهيلی آسيا كی د لاس ته راغليو شواهدو او مطالعاتو پر بنسټ د د اچ آی وي او ايډز ناروغۍ پر وړاندې حساسيتونه او توپير د هغې د وقايې، درملنې او مراقبت په مخ نيوي كې پراخه ونډه لري. د بېلګې په توګه هغه مطالعه چې د هندوستان په هېواد كې شوې ده ښكاره كوي چې ۳۴ په سلو كې د پوهنتون محصلين او د عامې روغتيا د خدمتونو تخنيكی كاركوونكي د هغه كسانو سره چې په اچ آی وي يا د ايډز په ناروغۍ اخته دي، تولنيز معاشرت نه كوي.

په سهيلي آسيا كې د ايډز د ناروغۍ اپيډيمي په عمومي توګه د خطرو درلودونكو كارونو له امله ( لكه د پيسو په مقابل كې جنسي اړيكې، د زرقي مخدره توكيو كارونه او د نارينه وو تر منځ ناخوندي جنسي اړيكې ) پراختيا مومي.

*«ډېرى کسان چې د اچ آی وي له ګوانبونو سره مخ دي، معمولاً د ټولنيز حساسيت سره مخامخ کيږي چې د اچ آی وي د ناروغانو د وقايې، درملنې او پاملرنې او عمومي مرستې په وړاندې يې ننګونې منځ ته راوړې دي.»* دا **مطلب ډاکټر پيتر پيوت چې د UNAIDS اجراييوی آمر دی،** څرګند کړ او زياته يې کړه چې *(دا د يوه ښه زېرې مانا لري چې ددې مسئلو په هکله په سهيلي آسيا کې يانې په هغه ځای کې چې حساسيت او تبعيض لويې ستونزې جوړوي، نوي ګامونه پرانستل کيږي.»*

د سهيلي آسيا لپاره د آزادو سياليو له لارې د مرستو دا پروګرام د ملګرو ملتونو د اچ آی وي او ايډز د پروګرام (UNAIDS)، د ماشومانو لپاره دملګرو ملتونو وجهی صندوق( UNICEF)، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د کنترول اداره ( UNODC)، د ملګرو ملتونو انکشافی اداره (UNDP)، و د ايډز، توبرکلوز او ملاريا په وړاندې د مبارزې نړيوال صندوق (GFATM) او خصوصي سکټور په مرسته پلي کيږي او د د مدني ټولنې ټولو هغه ډلو ، ټولنيزو متشبثينو، د تنکيو ځوانانو د سازمانانونو، خصوصي بنسټونو، اکاډميکو مرجع ګانو او د خصوصي سکټور د شرکتونو پر مخ خلاص دی چې په دې هکله ځانګړي نظريات لري خو د عادي تمويلي سرچينو څخه وجهې نه شي لاس ته راوړلای. د هر وړانديز لپاره د مرستې تر ټولو زيات رقم ۴۰۰۰۰ امريکايي ډالره ټاکل شوی دی. وړانديزونه به د ۲۰۰۸ کال د جنوري تر ۲۱مې نېټې پورې ومنل شي.

د آزادو سياليو له لارې د مرستو پروګرام په نړيوال بانك پورې اړه لري چې په هغې کې د سياليو د شفافې پروسې څخه د پراختيايي ننګونو د لېرې کولو لپاره، د خلکو نوي او ځايي نوښتونه پياوړي کيږي. په تېرو اوو کلونو کې نوموړی پروګرام کابو ۳۴ ميليونه امريکايي ډالره شا او خوا ۸۰۰ ميليونه کوچنيو پروژو ته ورکړي دي.

د سهيلي آسيا لپاره د آزادو سياليو له لارې د مرستو د موندې د پروګرام لپاره د انټرنټ د لاندې ويب سايټ له لارې وړانديز ليکونه استول کېدای شي. http://www.worldbank.org/sardm2008

په سهيلي آسيا کې د اچ آی وی او ايډز په هکله لاندې ويب سايت کتلای شی: *http://www.worldbank.org/saraids*

په افغانستان کې د نړيوال بانك د چارو په هکله د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره دی انټرنټی سايټ ته ولاړ شی: http://www.worldbank.org.af

###